بسم الله الرحمن الرحیم

# د غونډې خبرې

هغه ګران بیه میراث چې اهلبیتو(ع) له ځانه وروسته پریخی دی او د هغوی لارویانو هغه له ورک شونې څخه ساتلی دی د مکتب یوه کامله بیلګه ده چې د اسلامي علومو بیلا بیلې څانګې لري. او د علم ډیر تږي یې له دې چینې خړوب کړي دي. او داسې عالمان او پوهان یې اسلامي امت ته ورکړي دي چې د اهلبیتو(ع) د علمونو په رڼا کې په اسلام باندې د بیلا بیلو سوالونو، شبهو فکري بې لاریو ځواب ورکړي، او په تېر شوي پیړیو کې یې د سوالونو د ټولو نه ښه ځوابونه او د مشکلاتو د حل لارې ښودلي دي.

د اهلبیتو(ع) نړیوالې غونډې ـ لپاره د دې چې دا ذمه واري یې اختسې ده ـ د رسالت له حریمه او د حقو اعتقاداتو نه دفاع ته وړاندې شوی ده. هغه حقیقتونه چې د بیلا بیلو فرقو، مذهبونو او د اسلام مخالفوخلکو همیشه د هغې په مخالفت کې کوښښ کړی دی. د اهلبیتو نړیواله غونډه په پاکې لارې کې، ځان د اهلبیت (ع) د ریښتني لارویانو او شاګردانو څخه ګڼې، هغه شاګردان چې همیشه دې تهمتونو لرې کولو ته تیار وو او دا کوښښ کوي چې په هره زمانه کې د زمانې د غوښتو مطابق د دې جنګ په لومړي سر پاتې شي.

هغه تجربې چې په دې بڼه د اهلبیتو(ع) د مکتب د پوهانو په کتابونو کې ذخیره شوې او راټولې شوې دي، د هغې مثال نه ملاویږي. ځکه چې دا تجربې او دلیلونه چې ټول د عقل سره سم او له بې ځایه تعصبه پاک دي، متخصصان او پوهان او عاقلان داسې مخاطب کوي چې د هغوي عقل او پاک فطرت دا دلیلونه ومني او قبول یې کړي.

د اهلبیتو(ع) نړیوالې غونډې دا کوښښ کړی دی چې د دې تجربو نوې ټوک، د دې زمانې د محققانو، لیکوالانو او د هغه کسانو چې د

اهلبیتو(ع) مذهب یې قبول کړی دی، کتابونه چاپ کړي او د حقیقت د چینې تږو ته یې وړاندې کړي.

دې غونډې د شیعه وو د تېر شویو عالمانو لیکل شوې کتابونه او تحقیقات هم چاپ کړي دي چې دا کتابونه به هم د حقیقت د لټوونکو لپاره د یو خوږې چینې په شان وي. او په دې زمانه کې چې عقل په تکامل او پوره کیدو دی، د اهلبیتو(ع) هغې حقیقتونو ته چې د نړیوالو لپاره یې د تحفی غوندې پریخې دي غوږ کیدي.

هیله لرو چې د دې غونډې د کتابونو لوستوونکي به مونږ له خپلو قیمتي وړاندیزونو او ښو نیوکو څخه خبر کړي.

همدارنګ ټولو مؤسسو، پوهانو او ژباړه کوونکو ته بلنه ورکوو چې د ګران پیغمبر(ص) دین په خپرونې کې له مونږ سره مرسته وکړي.

له خدایه دا سوال کوو چې زمونږ دا وړکې غوندې کوښښ په خپلې درګاه کې قبول کړي او د اخري امام مهدي (عجل الله تعالي فرجه الشریف) د سوري لاندې نور توفیق هم راکړي.

دې ځاي کې مناسبه ګڼو چې د خوږ استاد ښاغلي عبدالرحیم دراني څخه مننه وکړو چې د دې کتاب په ژباړې کې یې له مونږ سره مرسته وکړه او همدارنګ له هغې کسانو چې د دې کتاب په پوره کیدو کې یې له مونږ سره مرسته کړې، په بیله توګه هغه کسان چې د ترجمې په اداره کې کوښښ کوي.

د اهلبیتو(ع) د نړیوالې غونډې
فرهنګي معاونت

## لنډه پيژندګلو:

نوم: نـورو امامـانو فرمـايلي دي چـې د امـام قـائم عليــه الســلام نامــه بايــد وانــۀ خلــو، يــوازې دومره روايت شوي چې هغـه د پيغمبر همنامـه دي. کنيـــت يـــې هـــم د پيغمبـــر حضـــرت محمدصلي الله عليه و اله و سلم دي. او جائزه نـۀ ده چـې نـوم يـې پـه څرګنـده توګـه پـه خلـۀ واخســـتل شـــي تـــر دې چـــې ظهـــور وکـــړي او راڅرګند شي.

لقب: مهدي، قائم، حجت او بقيه الله دي.

پلار: يولسم امام حسن عسکري عليه السلام

مور: بي بي نـرجس چـې د روم د باچـا قيصـر لمسـۍ ده.

د زوکړې نيټه: د 255 هجـري قمـري کـال د شـعبان د مياشـتې پنځلسمه، د جمعې ورځ.

د زوکړې ځايې: د عراق ښار سامرا

عمر: تر اوسه چې 1425 هجري قمري دي، قبو يوزر يـو سـل او پنځۀ شپيته کالـه د هغـۀ مبـارک لـه عمـره تيريـږي او تـر څـو چـې خدايـې وغـواړي

جاري به وي، يوه ورځ به د خدايې په حکم راڅرګندېږي او نړۍ به له عدل و انصافه ډکوي.

## په بيلا بيلو دينونو او مذهبونو کښې په حضرت مهدي(عج) باندې عقيده

په الهي او نړيوال مصلح امام مهدي (عج)باندې عقيده په ډيرو مذهبونو او دينونو کښې موجوده ده او اهل سنت، اهل تشيع او حتی د نورو دينونو منونکي لکه يهود، نصاری، زرتشتيان اوهندوان هم د يو لويې الهي مصلح په څرګنديدو او راتللو عقيده او اعتراف لري او انتظا ر يې کوي.

په "ويد" کتاب کښې چې د هندوانو په نزد اسماني کتاب دی، راغلي دي د دنيا له خرابيدو ورسته به په اخره زمانه کښې يو باچا پيدا شي چې د مخلوقاتو لارښود به وي او نوم

به يې منصور وي.[1] ټوله دنيا به ونيسي ټول خلق به په خپل دين راولي او مومنان او کافران به وپيژني.

د زرتشت د شاګرد په "جاماسب" کتاب کښې راغلي دي. د هاشم له بچيو څخه به يو تن په دنيا کښې راڅرګند شي. چې د خپل نيکۀ په دين به وي، ايران ته به راشي او هر ځايې به اباد کړي، دنيا به له عدل او انصافه ډکه کړي او انصاف به دومره زيات شي چې ګډه به له ليوۀ سره په يوې چينې اوبۀ څښي.

د زرتشتيانو په مذهبي کتاب زند کښې راغلي دي:"هله به دنيکيو د خدايي ايزدان لخوا لويه کاميابي وشي، شيطانان به ختم کړي، د شيطاني خدايانو لپاره به په زمکه او اسمان کښې ځايي نۀ وي او د ايزدان تر کاميابۍ او د اهريمنيانو او شيطانانو د تخت له نسکوريدو ورسته به نړۍ نيکمرغه شي او بنيادمان به د نيکمرغۍ او نيکبختۍ په تخت کښيني".[2]

او په تورات کښې د هغو دولسو امامانو چې د اسماعيل عليه السلام له نسله به وي په حقله خبرې شوي دي.

"او د اسماعيل په حق کښې مې ستا خبره واوريده، اوس مې هغۀ ته برکت ورکړ، هغه مې ګټه ورکړ او ډيره ګټه به ولري،

1 . نجم الثاقب محدث نوري.

2 . بشارات عهدين ص 237.

او دولس سرخیلان به راپیدا کیږي چې د هغوي به ډیر ستر امت وي.[1]"

او د حضرت داؤد علیه السلام په "مزامیر" کښې لیکل شوي "....او خدایې پاک صالحان تائیدوي، صالحان به د زمکې وارثان وي او هلته به تل استوګن وي.[2]"

په قران مجید کښې هم راغلي دي: "ولقد کتبنا في الزبور من بعد الذکر ان الارض یرثها عبادي الصالحون.[3] (مونږ د (داؤد) په زبور کښې له (ذکره) ورسته ولیکل چې زمونږ غوره او صالح بندګان به د زمکې وارثان وي) او بیا قران فرمایي: "وَعَدَ اللهُ الذینَ امَنو منکم وَ عَملو الصالحات سَیَخلِفَنَهُم فِي الارضِ کما استَخلفَ اَلذِینَ مِن قَبلهم ولیمکن لهم دینهم الذي ارتضَی لَهُم وَلَیُبَدلَنهُم مِن بَعدِ خَوفِهِم اَمنا یَعبُدونَني لا یُشرِکونَ بِي شَیئاً" (خدایې پاک په تاسو کښې له هغو کسانو سره چې ایمان یې راوړې او نیک کارونه کوي ژمنه کړې ده چې هغوي د زمکې په مخ ګدی ناستي کړي لکه څنګه چې یې مخکښې کسانو ته خلافت ورکړ او هغه دین چې خدایې پاک دوي ته خوښ کړی دی ځایې په ځایې کړي او د دوي ویره په

1 . سفر تکوین (17...20)

2 . مذمور 37، بن 10...37 کتاب مقدس چاپ 1901

3 . سوره انبیاء ایت 105

امن بدله کړي ځکه چې زما عبادت کوي او له ما سره هیڅ شریک نهٔ ټاکي).[1]

همدا راز فرمايي: "وَ نُرِيدُ اَنْ نَمُن علي الذين استضعفوا في الارض و نجعلهم ائمه و نجعلهم الوارثين"[2] (اراده مو کړې ده چې په مستضعفانو (هغو کسانو چې ظالمانو پرې ظلم کړی او بې وسه کړي يې دي) احسان وکړو او هغوي د زمکې مخکښ او وارثان وګرځوؤ).

دا ډول ايتونه په دې ګواه دي چې بالاخره به زمکه د خدايې د غوره بندګانو په لاس ورځي. هغوي به د زمکې وارثان کيږي او د نړيوالو د مخکښۍ او مشرۍ مقام به ترلاسه کوي. که انسان نن د خدايې له سمې لارې کوږ او بې لارې شوی او د ذلتونو او پستيو په لويو ګړنګونو کښې لويدلې نو په حقيقت کښې دا ددې حالت ورستۍ شيبې دي او ډير زر به د انسانانو ضميرونه راويښ شي او پوهه به شي چې په زور ځواک خپل فکر و عقل، ټيکيالوجۍ او مادي علومو سره په نړۍ کښې پراخ او هر اړخيز عدالت، نظم او نيکمرغي نشي راوستی او له دې پرته بله لاره نشته چې خپلې اړيکې د ايمان، وحي اود الهي ولايت د منلو په بنيادونو ودروي. د الهي او نړيوال مصلح او غوريز په مشرۍ سره ځان د خطرونو

---

1 . سورة نور ايت 55

2 . سورة قصص ايت 5

له جبو راوباسي او د کمال او نیکمرغۍ لاره پیل کړي، چې د عدل، امن مینې او محبت په اساس یو حکومت رامنځته کړي.

## په اسلامي سرچینو کښې په امام (عج) عقیده

د اسلام عزتمن پیغمبر حضرت محمد صلي الله علیه و اله وسلم او همدارازهر یو امام ځو ځو ځله په بیلا بیلو ځایونو کښې د امام مهدي (عج)، د هغوي د لنډ او اوږد غیبت او د مختلفو ځانګړنو او خصوصیاتو په حقله خبرې کړي او ډیرو پیروانو او راویانو دا حدیثونه رانقل کړي دي. د "الامام المهدي علیه السلام" کتاب لیکونکي دداسې پنځوسو اصحابو نومونه اخستي دي چې له پیغمبره یې په دې حقله حدیثونه نقل کړي او پنځوس نور کسان یې له تابعینو داسې یاد کړي چې د امام مهدي علیه السلام په حقله یې حدیثونه رانقل کړي دي.[1]

ځینو مشهورو او نامتو شاعرانو دغه حدیثونه د زمانې د امام له زوکړې په لسګونو او حتی په سلګونه کاله وړاندې لوستي دي. کمیت چې یو لوېې شاعر دی د حضرت

1. الامام المهدي، تالیف علي محمد دخیل ص 47، 40

مهدي(عج) په حقله یو شعر وویې او له امام باقر علیه السلام څخه یې د هغوي د پاڅون د وخت په حقله پوښتنه وکړه.

اسماعیل حمیري د امام جعفر صادق علیه السلام خدمت ته حاضر شو او یوه اوږده قصیده یې ولوسته چې د ځینو بیتونو ژباړه یې داده:

"او خپل خدایې ګواه نیسم چې ستا (امام صادق) خبره په ټولو مخلوقاتو (که منوونکي وي او که شرغړونکي) حجت ده. (چې فرمایلي دې دي) هغه امر کوونکې او قائم چې زما سترګې به د لیدو په انتظار دي یو غیبت لري، چې غائب کیږي او پټیږي به. څۀ موده به په غیبت کښې اوپټ وي، بیا به راڅرګندیږي او لویدیځ او ختیځ به له عدل و انصافه ډکوي."

ځینو نورو شاعرانو هم چې د امامانو په زمانه کښې وو، یا له هغوي ورسته راغلي دي په خپلو شعرونو کښې د امام مهدي (عج) وجود او ظهور یاد کړې او ډیر وخت داسې شوي دي چې یو شاعر به له یو امامه پوښتل چې ایا تۀ امام مهدي (عج) یې؟ او امام به ورته د امام مهدي(عج) پیژندګلو کوله او د هغۀ حالات به یې ورته بیانول:

د همدغو ډیرو حدیثونو، روایتونو او شعرونو په وجه حتی د امام مهدي (عج) تر زوکړې مخکښې هم ډیرو کسانو په دروغه د مهدویت دعوه وکړه او له دې لارې یې ناوړه استفادې وکړې. مثلا "کیسانیه" فرقې د امام مهدي (عج) تر

زوکړې قابو دوه پيړۍ مخکښې "محمد حنفيه" امام مهدي (عج) ګڼلو او په دې عقيده وو چې هغه له سترګو پناه شوی دی او يوه ورځ به راښکاره کيږي. دوي به د خپلې ادعا د ثابتولو لپاره هغه حديثونه او روايتونه راوړل چې له پيغمبر (ص) او له مخکښينيو امامانو څخه د امام مهدي (عج) اخر زمان په حقله نقل شوي وو. او يا مثلا مهدي عباس ځان ته "مهدي" وې چې په دې طريقې سره خپلو موخو ته ورسيږي.

ډير زياتو سني او شيعه عالمانو په خپلو کتابونو کښې د امام مهدي (عج) په حقله حديثونه ليکلي دي. د اهلسنت امام احمد بن حنبل (چې په 241 هجري کال کښې وفات شو) مسند او د اسماعيل بخاري (چې په 256 کال کښې وفات شو) صحيح بخاري هغه معتبر کتابونه دي چې د امام مهدي (عج تر زيږيدو مخکښې ليکل شوي خو د امام مهدي (عج) په حقله پکښې حديثونه شته.[1]، [2]

---

1 . په نويد امن وامان کتاب کښې د 106 تنو نومونه راغلي او د محمد ال ياسين په کتاب المهدي المنتظر کښې د اتۀ ديرشو تنو نومونه راغلي دي.

2 . اثبات الهداه ج 7 ص 206، 198 او مسند احمد بن حنبل ج1 ص 84، 448، 99 او دوهم جلد ص 37، 27

د حسن بن محبوب ليکلی شوی مشهور کتاب "مشيحه" د شيعه وو له هغو کتابونو څخه دی چې د اروابناد "طبرسي" په وينا، د مهدي اخر زمان (عج) تر لويې غيبت څخه قابو سل کاله مخکښې ليکل شوی دی. او د امام مهدي (عج) د غيبت حديثونه پکښې موجود دي. همدا شان شيعه وو حديث نقل کوونکو د امام باقر عليه السلام او امام صادق عليه السلام په وخت په خپلو تاليفاتو کښې د غيبت خبرونه راخستي دي.[1]

همدا راز ډيرو شيعه او سني عالمانو د امام مهدي (عج) په حقله پوره پوره کتابونه ليکلي دي چې ځينې پکښې د امام مهدي (عج) تر زيږيدو مخکښې برابرشوي دي. د امام مهدي (عج) په حقله حديثونه دومره زيات دي چې په اسلامي مسائلو کښې په ډير کم موضوع دومره زيات حديثونه راغلي دي او ددغو حديثونو پريکنده والې منلی شوی دی. او په شيعه عالمانو سربيره ځينو سني عالمانو هم ددغو روايتونو قطعي والې جوت کړی دی، د مناقب الشافعي کتاب ليکوال "سنجري" وايي د اسلام له پيغمبر حضرت محمد (ص) څخه د امام مهدي (عج) په حقله نقل شوي حديثونه د تواتر حد ته رسيدلي دي.[2]

---

1 . اعلام الوری ص443

2 . المهدي المنتظر ص 85

د "امام مهدي (عج) کتاب مولف ليکي، که د امام زمان عليه السلام په حقله د سنيانو او شيعهؤ حديثونه وشمېرل شي نو شمېر يې شپږو زرو ته رسيږي. چې دا يو لويې شمېر دی. او د اسلام په ډيرو مسائلو کښې چې د مسلمانانو څرګند يقيني او منل شوي مسائل دي. دومره حديثونه نشته."[1]

د امام مهدي (عج) په حقله په راغلو حديثونو کښې ويل شوي چې هغه مبارک د بني هاشمو، بي بي فاطمه(ع) او د سيد الشهدا امام حسين عليه السلام له نسله دی او خپل نوم او کنيت يې هماغه د رسول الله مبارک نوم او کنيت دی. په پټه به زيږيږي، په پټه به ژوند کوي او دوه غيبتونه به يې وي چې يو به لنډ او بل به اوږد وي، تر څو چې خدايې وغواړي پټ به وي او بالاخره به د خدايې پاک په حکم پاڅون کوي او راڅرګنديږي به، په ټوله نړۍ به اسلام واکمنوي او نړۍ به له ظلم و زياتي ورسته له عدل و انصافه ډکوي، په دغه روايتونو کښې حتی د دولسم امام شخصي ځانګړتيا او خصوصيات او د هغوي په باره کښې نورې خبرې بيان شوي دي.

1 . امام مهدي ص 66

# د اهلسنتو د حدیثونو څو نمونې

1: د اسلام ګران پیغمبر حضرت محمد (ص)د حضرت امام مهدي (عج) د څرګندیدو په حقله فرمایي: که د دنیا یوازې یوه ورځ عمر هم پاتې وي، خدایې پاک به زمونږ له کورنۍ یو داسې کس راولیږي چې دنیا به له عدل او انصافه ډکه کړي لکه څنګه چې به له ظلم و زیاتي ډکه وي.[1]

2: ګران رسول فرمایي: د قیامت ورځ به تر هغې نه راځي چې زما د کورنۍ یو کس د دنیا چارې په لاس کې وانه خلي او د دۀ نوم به زما نوم وي.[2]

3: ګران رسول(ص) فرمایي: په تحقیق سره علي علیه السلام تر ما ورسته زما د امت امام دی او "قائم" د هغۀ یو بچی دی. چې کله راڅرګند شي نو په نړۍ به عدل او انصاف واکمنوي لکه څنګه به چې هغه له ظلم و زیاتي ډکه وي. په هغه خدایې قسم چې زۀ یې زیرې ورکوونکې او ویرونکې ګرځولې یم څوک چې د هغۀ د غیبت په وخت ټینګ او غښتلي پاتې شي هغه به له اکسیره هم کم پیدا کیدونکي کسان وي. جابر پاڅید او وې ویل: اي د الله رسوله(ص) ستا بچی به غائبیږي هم؟ وې فرمایل: هو په خدایې قسم خالص مومنان به پاتې

1 . مسند احمد بن حنبل ج 1 ص 99

2 . مسند احمد بن حنبل ج 1 ص 430، 376

کيږي او کافران به له منځه ځي. دا د لويې رب يو راز دي چې په خلقو پټ دی. په دې کښې شک مۀ کوه ځکه چې د خدايې پاک په چارو کښې شک کفر دی.[1]

4: ام سلمه وايي د اسلام ګران پيغمبر د مهدي (عج) خبره وکړه او وې فرمايل: هغۀ هغه دی او د بي بي فاطمې (ع) له اولاده به وي.[2]

5: سلمان فارسي (رض) وايي د اسلام د ګران پيغمبر (ص) په خدمت کښې حاضر شوم. پيغمبر (ص) حسين ابن علي عليه السلام په خپل زنګون کيښنولی ؤ، د هغۀ سترګې او شونډې يې ښکلولې او فرمايل يې: تۀ پخپله سردار يې، د سردارځوی او د سردار ورور يې، تۀ امام، د امام ځوي او د امام ورور يې تۀ د خدايې حجت، د خدايې د حجت ځوي يې او د خدايې د حجت ورور يې او تۀ د خدايې د نهو حجتونو پلار يې چې نهم يې مهدي (عج) دی.[3]

6: د خدايې رسول (ص) و فرمايل: تاسو ته د مهدي (عج) زيري درکوم. هغۀ به زما په امت کښې مبعوث کيږي په داسې حالت کښې چې زما امت به په اختلافونو او بې لاريو کښې ډوب وي نو زمکه به له عدل و انصافه داسې ډکه کړي څنګه به چې

1 . ينابيع المودة ص 494

2 . مستدرک الصحيحين ج 4 ص 557

3 . ينابيع المودة ص 494

هغه د ظلم او فساد نه ډکه وي، د زمکې او اسمانونو اوسيدنکي به له هغه راضي وي.[1]

**7**: امام رضا عليه السلام وفرمايل: څوک چې نيکي او پاکوالی نۀ لري، دين نه لري، په تاسو کښې خدايې پاک ته هغه کس تر ټولو نزدې دی چې متقي او پرهيزګار وي، بيا يې وفرمايل: زما له نسله څلورم بچی د وينځو د سرخيلې او ميرمنې بچی دی. چې خدايې پاک به د هغۀ په وسيله زمکه له هر ظلم و فساده پاکوي. دې هماغه کس دی. چې خلق به يې په زوکړې کښې شک کوي. دې به د څۀ مودې لپاره پټ او غائب شي او چې کله بيا راڅرګند شي نو زمکه به د خدايې له نور او رڼا ډکه او په خلقو کښې به انصاف او عدل راولي دومره زيات انصاف چې هيڅوک به په چا ظلم نۀ کوي.[2]

**8**: اميرالمومنين حضرت علي عليه السلام فرمايي: خداي به يوه داسې ډله راپيدا کړي چې له خداي پاک سره مينه لري او الهي باچاهي به جوړه کړي هغه کس چې په دغه ډلې کښې "پټ" او ميلمه دی هماغه امام مهدي (عج) دی. چې زمکه به له انصافه ډکوي. په وړوکوالي کښې به له مور او پلار جدا شي.... او د مسلمانانو سيمې به په امان ورکولو سره فتح کړي. وخت به هم د هغۀ ملګری وي، خلق به يې خبره اوري او

1 . مسند احمد بن حنبل ج2 ص 37

2 . ينابيع المودة ص448

په زمکه به دومره زيات انصاف او عدل راولي څومره چې له ظلم او زياتي ډکه وي. نو ددۀ امامت به بشپړ شي او خلافت به يې ځايې په ځايې شي. خدايې پاک به هغه کسان چې په قبرونو کښې دي راپاڅوي، زمکه به د مهدي (عج) په برکت ښيرازه او خوشحاله شي، فتنې کړکيچونه، بلواوې او لوټ مار به له منځه لاړ شي او خير و برکت به زيات شي، تر دې ورسته به څۀ وشي. ددې ويلو ته حاجت نۀ محسوسوم او زما سلام دې وي په هغه ورځ"[1]

## د شيعاؤ د حديثونو څو نمونې

**1**: امام صادق عليه السلام فرمايي: خلق به خپل امام ورک کړي خو هغه به د حج په موسم کښې راښکاره شي. خلق به يې نۀ ويني خو هغه به خلق ويني.[2]

**2**: "اصبغ بن نباته" وايي: د اميرالمومنين حضرت علي عليه السلام په خدمت کښې حاضر شوم، امام په فکر کښې ډوب ؤ او په مبارکې ګوتې سره يې په زمکه کرښه راښکله، عرض مې وکړ ولې په فکر کښې يئ ايا زمکه مو خوښه ده؟ وې فرمايل: نۀ په خدايې قسم زۀ د دنيا او زمکې هيڅ شوق نۀ لرم

---

1. ينابيع المودة ص **467**
2. اصول کافي ج **1** ص **337**

زۀ هغه کس ته په چورت کښې يم چې زما له نسله او زما دولسم بچی دی چې نوم يې مهدي(عج) دی، هماغه چې په زمکه به داسې عدل او انصاف راولي څنګه به چې له ظلم او زياتې ډکه وي. هغه به څۀ موده غائبيږي چې په دې خبره به ځينې کسان بې لارې شي او ځينې به په سمه لاره پاتې شي.[1]

3: امام صادق عليه السلام فرمايي: که تاسو ته چا وويې چې صاحب د امر يعنې د وخت امام غائب شوی دی نو انکار مۀ کوئ.[2]

4: همدا شان فرمايي: د امام مهدي (عج) به دوه غيبتونه وي. لنډ غيبت او اوږد غيبت، په لنډ غيبت کښې به هغۀ له ځينو کسانو پرته بل چا ته د هغۀ ځاي نۀ وي معلوم، او په اوږد غيبت کښې به د هغۀ له خاصو ملګرو پرته بل څوک د هغۀ له ځايه نۀ وي خبر.[3]

5: د خدايې رسول فرمايي: قائم(مهدي عج) زما له کهوله دی د هغۀ نوم او کنيت به زما نوم او کنيت وي د هغۀ کړۀ وړۀ به زما په څېر وي او طريقه او سلوک به يې هم زما په شان وي. خلق به زما دين ته رابولي او د خدايې پاک کتاب ته به يې هدايتوي، څوک چې د هغۀ اطاعت وکړي، ګوندې زما

1 . اصول کافي ج 1 ص 337

2 . اصول کافي ج 1 ص 337

3 . اصول کافي ج 1 ص 340

اطاعت يې کړی دی. څوک يې چې مخالفت وکړي له ما سره يې مخالفت کړی دی او څوک يې چې له غيبته منکر شي ګوندې زما يې انکار کړی دی.[1]

6: څلورم امام زين العابدين عليه السلام فرمايي: امام مهدي (عج) د خدايې له پيغمبرانو، نوح عليه السلام، ابراهيم عليه السلام، موسی عليه السلام، عيسی عليه السلام، ايوب عليه السلام او حضرت محمد صلي الله عليه و اله والسلم سره ورته والی لري، د عمر په زياتوالي کښې د نوح په شان دی. د زيږيدو په پټيدو کښې د ابرهيم په شان، په غيبت کښې د موسی په شان، له هغۀ سره د خلقو په اختلاف کښې د عيسی په شان، له مصيبتو او کړاوونو ورسته راحتۍ او سوکالۍ ته په رسيدلو کښې د ايوب په شان او په تورې سره په قيام او پاڅون کښې د ګران رسول حضرت محمد (ص) په شان دی.[2]

7: امام صادق عليه السلام فرمايي: زما بچي "مهدي" به د څۀ مودې لپاره غائبيږي نو په دغه موده کښې د خدايې بندګانو ته پکار دي چې له خدايه ووېريږي او د هغۀ په دين غښتلي او ټينګ پاتې شي.[3]

---

1 . اعلام الوری ص 425

2 . کمال الدين ص 322 باب 31 حديث 3 (چاپ اخوندي)

3 . کمال الدين ص 343 باب 33 حديث 25

**8**: همدا راز فرمايي: مهدي(عج) به تر هغه وخته ظهور نۀ کوي چې په دنيا باندې د خلقو ټولې پرګنې او قسمونه حکومت ونۀ کړي چې څوک ونۀ ويل شي چې که مونږ حکومت کړی وی نو عدالت او انصاف به مو راوستی ؤ، هله به بيا مهدي(عج) راڅرګنديږي.[1]

## د امام زيږيدا

د اسلام دولسم اسماني لارښود حضرت حجة ابن الحسن المهدي عليه السلام د 255هجري سپوږميز کال د شعبان په پنځلسمې نيټې د جمعې په ورځ سهار مهال په سامرا کښې د امام حسن عسکري عليه السلام په کور کښې دنيا ته راغی.[2]
قدرمن پلار امام حسن عسکري عليه السلام او مور بي بي يې نرجس وه. چې سوسن او صيقل هم ورته وايي. دا بي بي د روم د باچا قيصر لمسۍ او د حضرت عيسی عليه السلام د حواري (ملګري) شمعون له نسله ده، بي بي نرجس دومره فضيلت لري چې د امام هادي عليه السلام خور بي بي حکيمې چې خپله د امامت د کورنۍ يوه لويه ميرمن ده، هغې

1. اثبات الهداه ج 7 ص 427، 428
2. اصول کافي ج 1 ص 514

ته د خپل ځان او خپلې کورنۍ سرداره وایې[1] او ځان د هغې خدمتګاره بولې.[2] بي بي حکیمې به هر وخت دعا کوله چې خدایه امام حسن عسکري علیه السلام ته ځوې ورکړې. یوه ورځ چې د امام حسن عسکري علیه السلام کتنې ته تللې وه بیا یې دا دعا وکړه، امام ورته وفرمایل: د کوم بچي دعا چې ته غواړې هغه به سبا ته دنیا ته راشي، راځئ چې نوره قیصه یې له خپلې خلې واورو:

تر مېنامه پورې د امام په کور کښې ؤم، وینځې ته مې اواز وکړ چې زما جامې راوړه زۀ ځم، امام راته وفرمایل: تروري نن دلته پاتې شه، ځکه چې نن د داسې بچي د زیږیدو شپه ده چې خدایې پاک به د هغۀ په لاس دنیا له انصافه ډکه کړي، ورته مې وویل اي زما سرخیله! دا ماشوم به له چا زیږیږي، زۀ خو په بي بي نرجس کښې د حمل او موروالي څۀ نښې نښانې نۀ ګورم، وې فرمایل: له بي بي نرجسه به پیدا کیږي. زۀ پاڅیدم او بي بي نرجس ته مې ښۀ په ځیر سره وکتل خو د مور جوړیدو هیڅ نښه مې پکښې ونۀ موندله. بیا امام مسکې شو او وې فرمایل: سهار به تاته پته ولګي چې دا مور ده ځکه چې دا هم د حضرت موسی علیه السلام د مور په شان تر زیږیدو پورې پته نۀ وه ځکه چې فرعون به د هغو ښځو چې

1 . بحار ج 51 ص 2

2 . بحار ج 51 ص 12

په خيټه کښې به يې بچې ؤ، خيټه ځيرله. دا ماشوم به هم د حضرت موسى عليه السلام غوندې د ظالمانو د ظلم ټغر ټول کړي. حکيمه وايي ما تر سهاره پورې د بي بي نرجس خيال وساتۀ او هغه په ارام سره زما په خوا کښې اودۀ وه. د شپې په ورستيو شيبو کښې په ويرې سره راپاڅيده، ما په غيږ کښې ونيوله او د خدايې نوم مې پرې چف کړه ما پرې دا سورة ولوست او له بي بي نرجس مې د هغې د حال پوښتنه وکړه، هغې وويل: څۀ چې امام ويلي دي، څرګند شوي دي.

## د امام د زيږيدو پټوالې

د بني اميه او بني عباسو تاريخ په تيره بيا تر شپږم امام جعفر صادق عليه السلام ورسته ګواه دی چې خلفا دامامانو په حقله ډير حساس شوي وؤ، ځکه چې په ټولنه کښې د امامانو ډير عزت کيدۀ او د وخت په تيريدو سره په خلقو کښې د امامانو نفوذ او له دوي سره د خلقو مينه زياتيده او عباسي خليفه ګانو ځان ته خطره محسوسوله.

دا خبره مشهوره وه چې دولسم امام به د امام حسن عسکري عليه السلام له نسله وي نو ځکه د عباسي حکومت خليفه ګانو په سامرا کښې امام حسن عسکري عليه السلام ډير سخت څارۀ او کوشش يې کوؤ چې د دغه ماشوم د راتللو مخه ونيسي خو د خدايې اراده بل څۀ وه او خدايې پاک د

مهدي (عج) زوکړه د حضرت موسی علیه السلام په شان پټه وساتله. سره له دې د امام حسن عسکري علیه السلام خاصو یارانو امام مهدي (عج) د خپل پلار په ژوند کښې څو څو ځله لیدلی ؤ. او د امام حسن عسکري علیه السلام د شهادت په وخت هم امام مهدي (عج) راڅرګند شو، د خپل پلار د جنازې مونځ یې وکړ او خلقو ولید، او له هغې ورسته بیا غائب شو.

د امام مهدي (عج) د زوکړې له وخته پورې د یولسم امام اکثرو خاصو ملګرو او خپلوانو امام مهدي (عج) ولیدلو یا خبر شول چې د امام په کور کښې دی. امام حسن عسکري علیه السلام به د امام مهدي (عج) زوکړه پټه ساتله خو سره له دې به یې په خاصو او مناسبو موقعو کښې خپل باوري یاران د امام له وجوده او شتونه خبرول چې نور خلق هم ترې خبر کړي او ناخبره او ورک لارې پاتې نشي. د نمونې لپاره څو واقعې وړاندې کوم:

1 احمد بن اسحاق چې یو لویې عالم او د امام مهدي (عج) له خاصو ملګرو څخه دی وایي: د امام حسن عسکري علیه السلام خدمت ته ورغلم او غوښتل مې چې د راتلونکي امام او ځاي ناستي پوښتنه ترې وکړم. امام حسن عسکري علیه السلام بې له دې چې ما پوښتنه کړې وي، وفرمایل: چې اې احمده! خداي پاک له هغه وخته چې حضرت ادم علیه سلام یې پیدا کړ زمکه له حجته خالي نۀ ده پرېښې او تر قیامته پورې به هم زمکه له حجته خالي نۀ وي ځکه چې د خدایې پاک د

حجت په برکت له زمکې بلاګانې لرې کیږي، بارانونه کیږي او د زمکې برکتونه راڅرګندیږي. عرض مې وکړو: اې د خدایې حجته تر تا ورسته امام او ځای ناستي څوک دي؟

امام په بیړې سره کور ته ننوت او چې کله راووت نو په لاس کښې یې د دریو کالو یو ماشوم ؤ چې مخ یې د سپوږمۍ په شان ځلیدۀ. او وې فرمایل: ای اسحاقه! که په خدایې پاک او د هغۀ په امامانو ګران نۀ وی نو دا ځوې مې درته نۀ ښودلو، دې د خدایې د رسول همنامه اوهم کنیه دی. دې به زمکه له عدله و انصافه ډکوي لکه څنګه چې له ظلم او زیاتي ډکه وي. اي اسحاقه! په دې امت کښې ددۀ مثال د حضرت خضر علیه سلام او ذولقرنین په شان دی، په خدایې قسم، دې به غائبیږي او ددۀ د غیبت په وخت به یوازې هغه کسان له هلاکته بچ وي چې ددۀ په امامت ولاړ وي او ددۀ د راتللو لپاره دعا کوي. عرض مې وکړو ای زما سرداره! ایا داسې څۀ نښه شته چې زما زړۀ پرې مطمئن او ډاډا شي؟ په دې وخت کښې هغه ماشوم په فصیحې عربۍ کښې وویل: زۀ په زمکه د خدایې پاک حجت یم، هماغه چې له ظالمانو او د خدایې له دښمنانو به انتقام اخلي.[1]

د امام ترور بي بي حکیمه چې یوه پرهیزګاره ښځه وه، د امام حسن عسکري علیه السلام خدمتګار نسیم، ابو جعفر

1 . کمال الدین ج ص

محمد بن عثمان عمري، حسین بن الحسن علوي، عمرو الاهوازي، ابو نصر خادم، کامل بن ابراهیم، علي بن عاصم، عبدالله بن العباس علوي، اسماعیل بن علي، یعقوب بن یوسف ضراب، اسماعیل بن موسی بن جعفر، علي بن مطهر، ابراهیم بن ادریس، طریف خادم، او ابو سهل نوبختي، دا هغه کسان دي چې د امام مهدي (عج) په زوکړې خبر وؤ او روایتونه ترې نقل شوي دي.

3: عیسی بن محمد جوهري وایي: زهٔ او زما یو شمېر ملګري د امام مهدي (عج) د زوکړې د مبارکۍ لپاره امام حسن عسکري علیه السلام کره لاړو، زمونږ ورونو مونږ ته ویلي وو چې امام مهدي (عج) د جمعې په شپه او د شعبان په میاشت کښې پیدا شوی دی. کله چې امام حسن عسکري علیه السلام ته ورسیدو، له سلامه مخکښې مو ورته مبارکي وویله، مخکښې تر دې چې مونږ ترې پوښتنه وکړو وې فرمایل: په تاسو کښې داسې څوک شته چې دا پوښتنه یې زړهٔ ته لویدلې چې زما بچې مهدي علیه السلام چرته دی ما هغه خدایې سره امانت کیښودی دی لکه څنګه چه حضرت موسی علیه السلام مور کله چې موسی په صندوق کښې بند کړ او دریاب ته یې واچوؤ په خدای یې وسپارهٔ تر دې چې خدایې ورته ستون کړ.

# د غیبت او پټیدو مسئله

د اسلام د ګران رسول محمد (ص) د پیغمبرۍ او تر هغه وخته پورې چې معصوم امامان په ټولنه کښې موجود وو، (د هجرت تر 260 هجري کاله پورې) د اسلام بنیادي اصول او سیاسي، ټولنیز، اقتصادي او کلتوري احکام او داسې نور تعلیمات او لار ښوونې جوړې او برابرې شوې. په دې مودې کښې کۀ څه هم د طاغوتیانو او مخالفانو دباؤ زیات ؤ، خو معصومو امامانو له فرصتونو او موقعو استفاده وکړه او په بیلا بیلو اړخونو یې د اسلام احکام او مسائل بیان کړل. د اسلام بیلا بیل مسائل دومره په ښۀ طریقه بیان شوي چې د یو لوي نړیوال حکومت د جوړیدو وس او طاقت لري او په دې خبره کښې هیڅ شک هم نشته.

له بلې خوا د اسلام ګران رسول محمد (ص) او حضرت علي علیه السلام د حکومت ښه بیلګه وړاندې او عملي کړه چې ځلا او وړانګې یې انسانان وګوري او بې لارې نۀ شي نو د حضرت امام مهدي (عج) تر زمانې پورې د خدایې پاک لخوا د یو نړیوال حکومت زمینه برابره شوې او چمتو شوې وه. خو نړیوال خلق ددغه الهي حکومت تحقق او عملي کیدو ته تیار نۀ وؤ که خلق د دغه حکومت منلو ته چمتو وې نو امام به نۀ غائبیدۀ. او الهي قانون به یې عملي کړی او په ټوله نړۍ کښې به یې د اسلامي عدالت حکومت جوړ کړی ؤ نو ممکنه ده چې

له همدې امله يې غيبت کړی وي او لنډه غيبت يې بيا په اوږد غيبت او د هغهٔ په دوام بدل شوی وي. او هله به راڅرګند يږي چې د هغه وخت خلق د تيرو کسانو په شان د امام له حکومت نه مخ وانهٔ ړوي او له هر نظره د امام د حکومت منلو ته چمتو وي.

اروابښاد خواجه نصيرالدين طوسي ليکي د امام مهدي (عج) غائب شونه نهٔ د خدايې لخوا ده نهٔ پخپله د هغوي لخوا، بلکې د خلقو په وجه او له امله ده يعني خلق د هغوي پيروی او د خبرې منلو ته تيار نهٔ دي نو کله چې د غائبيدو لا ملونه ختم شي، امام به راڅګند شي. البته غيبت د الهي حکمت په بنياد شوی دی او مونږ يې له ټولو رازونو نهٔ يو خبر خو ممکنه ده چې يو بنيادي راز يې دا هم وي. د يوولسو امامانو د امامت په موده کښې د ټولنو سرغړونه او تېری تجربه کړه او په دې موده کښې له هغوي څخه د خلقو نهٔ ملاتړ او خبره يې نهٔ منل ښه جوت شول او په دې کښې هيڅ شک پاتې نهٔ شو چې خلق اسلامي عادل حکومت نهٔ غواړي. په داسې ښه کښې غيبت يوه فطري او طبيعي چاره ده. او د امام شتون يو داسې خبره ده چې کيدې شي مونږ ووايو چې امام په ټولنه کښې څهٔ ته موجود شي او څهٔ حاجت لري؟ نو امام به غائب وي او په پټه به په خپلو دندو عمل کوي تر دې چې د ظهور او څرګنديدو زمينه او شرائط يې برابر شي. خدايې پاک فرمايي: "اِنَ اللّٰہَ لا يُغَيرُ مَا بِقوم حتی يغيروا ما بانفسهم"

(خدايې پاک تر هغې پورې د کوم قوم حالت نۀ بدلوي تر څو چې هغوي پخپله په خپل ځان کښې بد لون رانۀ ولي)

دا راز امام تر ظهوره پورې پټ دی او په هغه وخت کښې به د نړۍ خلق پوهه شي چې د امام د غائبيدو لامل دوي پخپله وو خو دوي ترې نۀ وو خبر او که ځان يې د امام راتګ ته چمتو کړی وی نو امام به راڅرګند شوی ؤ خو ځانونه يې اصلاح او چمتو نۀ کړل بلکې په بيلا بيلو فاسدو حکومتونو پورې يې زړونه وتړل او خيال يې کوؤ چې دا رژيمونه کومه چاره کولي شي يا دا نړيوالې موسسې او له شور ماشور او پړق پړوق نه ډک کانفرنسونه څۀ علاج کولي شي. البته دا چې وايو چې خلق پخپله د امام د غائب کيدو سبب شوي، معني يې دا نۀ ده چې ټول خلق په دې ګناه اخته دي بلکې مطلب هغه ضروري اندازه ده چې د امام د ظهور لپاره ضروري ده. څرګنده ده چې ډير داسې غوريز کسان شته چې د امام ظهور ته چمتو دي خو تر هغې اندازې نۀ دي رسيدلي چې د امام د راڅرګنديدو لپاره ضروري ده. او هغه ټولنه چې د امام راتللو ته چمتووالې نۀ لري که امام راشي نو يقيني خبره ده چې دوي به يې مقابلې ته پاڅي او جنګ به ورسره کوي نو ځکه لا تراوسه غيبت جاري دی او خدايې پاک د غيبت په وسيله امام مهدي (عج) له تاوانه او وژلې ساتلی دی. که امام له خپلې ټاکلې مودې مخکښې راښکاره شي. دا خلق به ئې پرې نۀ ږدي نو په خپل الهي دندې کښې به کامياب نۀ شي او خپل

ټولنیز مقصد ته به ونهٔ رسیږي. امام مهدي (عج) چې راڅرګند شي نو یو حکومت به هم په رسمیت نهٔ پیژني او د هیڅ ظالم او زورور حکومت به نهٔ مني. او نهٔ به د چا بیعت کوي. ځکه چې په حقیقت به عمل کوي. د خدایې دین به بشپړ عملي کوي او له هیچا به باک او پروا نهٔ لري نو له دې امله له چا سره د بیعت او یا د چا د خیال ساتلو سوال هم نهٔ پاتې کیږي. چې کله راڅرګند شي د ټولو فاسدو حکومتونو ټغر به ټول کړي او اسلام به په ټوله نړۍ خپور کړي.

## لنډ او اوږد غیبت

د یوولسم امام له شهادته ورسته یعني د هجرت له 260کال څخه د هجرت تر 392 کاله پورې یعني قابو 69کاله د لنډ غیبت دوره وه او له هغه ورسته تراوسه او تر هغې چې امام مهدي (عج) راڅرګند شي د لویې غیبت دوره ده.

په لنډ غیبت کښې له امام سره د خلقو رابطه بشپړه غوڅه نهٔ وه خو محدوده وه او هر چا د "خاصو نائبانو" په ذریعه امام ته خپلې ستونزې او مسائل رسول او ځواب یې تر لاسه کولی شو او کله کله یې له امام سره پخپله هم کتلي شول. دې دورې ته د اوږد غیبت لپاره د چمتو کیدو پړاو ویلی شو په کوم کښې چې له امام سره رابطه غوڅه شوه او خلقو تر دې ورسته

په خپلو چارو کښې عامو نائبانو يعني فقهيانو او د شرعې د احکامو عالمانو ته مراجعه کوله.

کۀ له اوله اوږد غيبت پيل شوی وی نو کيدی شي خلق بې لارې او منحرف شوي وې. خو د لنډ غيبت په دورې سره ذهنونه اوږد غيبت ته تيار شول او اوږد غيبت پيل شو. پر دې سربيره په لنډ غيبت کښې له امام سره د هغۀ د خاصو نائبانو او فقيهانو ملاقاتونو او ورځنې د مسائلو زده کولو د امام مهدي (عج) د زيږيدو او ژوند خبره لا ثابته او پخه کړه او کۀ اوږد غيبت له دغو سريزو او مقدمو پرته پيل شوی وی نو دا مسئله به دومره پخه او روښانه نۀ وه او کيدی شي ځينو خلقو د امام په وجود کښې شک کړی وی.

خدايې تعالي په خپل حکمت سره لکه څنګه چې مخکښې پيغمبر او امامانو هم ويلي وو، غيبت دوه ډوله کړ، يعني يو لنډ او سپک غيبت چې "غيبت صغري" ورته وايي او تر هغې ورسته اوږد غيبت يعني "غيبت کبري"

## څلور نائبان

د لنډ غيبت په دوران کښې څلور تنه لويې کسان او بزرګان د امام مهدي (عج) خاص او ځانګړي وکيلان او سفيران وو چې امام ته به ورتلل او امام يې وکالت تائيد کړې ؤ. او د خلقو

لیکلو شوو پوښتنو ته به یې د امام لیکلي ځوابونه راوړل، البته په دغو څلورو وکیلانو سربیره په بیلا بیلو ښارونو کښې د امام نورو وکیلان هم وو چې یا به یې ددغو څلورو خاصو نائبانو له لارې امام ته د خلقو مسائل رسول او امام تائید کړي وو او لکه څنګه چې اروښاد ایت الله سید محسن امین وایي: دا څلور تنه عام او په ټولو مسائلو کښې د امام نائبان وو خو نور په خاصو او ځینو ځینو مسئلو کښې په دغو عامو وکیلانو کښې محمد بن جعفر اسدي، احمد بن اسحاق اشعري، ابراهیم بن محمد همداني او احمد بن حمزه بن الیسع شامل دي. څلور خاص نائبان دا دي:

1: ښاغلی ابوعمرو عثمان بن سعید عمري(رح)

2: ښاغلی ابو جعفر محمد بن عثمان سعید عمري(رح)

3: ښاغلی ابو القاسم حسین بن روح نوبختي(رح)

4: ښاغلی ابوالحسن علي بن محمد سمري(رح)

## ابو عمر عثمان بن سعید(رح)

ابو عمرو عثمان بن سعید عمري ډیر باوري او بزرګ کس او د امام علي نقي او امام حسن عسکري علیه السلام وکیل ؤ، د امام مهدي (عج) په حکم سره د امام حسن عسکري علیه السلام د کفنولو او خاورو ته سپارلو ذمه واري هم دوي په

غاړه واخسته، دې د سامرا په عسکر محلې کښې اوسيدۀ او له همدې امله ده ته هم عسکري وايي. ددې لپاره چې حکومتي ماموران پوهه نشي چې دي د امام وکيل دی، تيل او غوړي به يې خرڅول او کله چې له امام حسن عسکري عليه السلام سره د خلقو رابطه سخته وه نو امام به ددۀ په وسيله خلقو ته د ضرورت سامانونه ليږل. دۀ به سامان د تيلو او غوړو په لوښو کښې اچولو او رساوۀ به يې.

احمد بن اسحاق قمي وايي: امام هادي عليه السلام ته مې عرض وکړ چې زۀ کله دلته يم او کله نۀ يم او که يم هم نو کله ناکله له تاسو سره رابطه ډيره ګرانه وي نو د چا خبره ومنم او اطاعت يې وکړم. امام وفرمايل: ابو عمرو(اسحاق بن سعيد زما باوري او امين کس دی، څۀ چې تاته وايي زما له خلې يې وايي. او څۀ چې در رسوي زما لخوا يې درسوي.)

احمد بن اسحاق قمي وايي: د امام هادي عليه السلام له شهادته ورسته امام حسن عسکري عليه السلام ته ورغلم دوي ته مې هم دا خبره تکرار کړه. دوي هم د خپل ګران پلار په شان وويل: ابو عمرو د تير امام باوري او امين کس ؤ زما هم دی او ترما ورسته به هم وي. عثمان بن سعيد عمري له امام حسن عسکري عليه السلام وروسته د امام مهدي (عج) په حکم وکالت او نيابت ته دوام ورکړ. مسلمانانو به خپلې مسئلې هغۀ ته وروړې او هغۀ به خلقو ته د امام ځواب رسولو.

# ابو جعفر محمد بن عثمان بن سعيد عمري (رح)

عثمان بن سعيد عمري تر وفاته مخکښې د امام مهدي (عج) په حکم خپل ځوې ابو جعفر محمد بن عثمان بن سعيد عمري خپل ځاي ناستی او د امام نائب معرفي کړ. محمد بن عثمان بن سعيد عمري د خپل پلار په شان يو ستر شخصيت او په تقوي، عدالت او بزرگوارۍ کښې بې ساري ؤ او تر دې مخکښې هم امام حسن عسکري عليه السلام په هغه او د هغهٔ په پلار باور څرگند کړی ؤ.

عبدالله بن جعفر حميري وايي: کله چې عثمان بن سعيد عمري مړ شو نو امام په خپل لاس ليک سره مونږ ته يو ليک راواستوۀ چې پکښې ابو جعفر محمد بن عثمان بن سعيد عمري د خپل پلار په ځاي ټاکل شوی ؤ.

عبدالله بن جعفر حميري وايي: له محمد بن عثمان بن سعيد عمري مې پوښتنه وکړه چې امام مهدي (عج) دې ليدلی دی؟ وې ويل هؤ او ورستی کتنه مې ورسره د خدايې د کور په څنگ کښې کړې وه فرمايل يې: "الهم انجز لي ما وعدتني" (خدايه مونږ ته هغه څۀ راکړې چې تا يې ژمنه کړې ده.) همدارازمې امام په مستجار[1]" کښې وليد چې فرمايل يې:

1. مستجار: د خدايې کور ته مخامخ او د رکن يماني په خوا کښې يو ځايې دی چې گناهگاران ورته پناه ور وړي.

الهم انتقم بې اعدائي (خدايه زما په لاس زمونږ له دښمنانو غچ واخلې).

همدغه شان محمد بن عثمان بن سعيد عمري وايي: امام مهدي (عج) هر کال حج ته راځي، خلق ويني او پيژني يې، خلق هم هغه ويني خو نۀ يې پيژني.

محمد بن عثمان بن سعيد عمري ځانته يو قبر جوړ کړی ؤ او په هغه کښې يې يو ډول کپړې اچولې وې چې په هغې يې د قران ځينې ايتونه او د امامانو نومونه ليکلي وو، هره ورځ به په دغه قبر کښې کښيناستۀ او يوه سيپاره قران به يې لوستۀ. دغه بزرګوار له مړينې يوه ورځ مخکښې د خپلې مړينې خبر ورکړ او په هماغه ورځ يې له دنيا سترګې پټې کړې، له وفاته مخکښې ورته ځينې لويې عالمان راغلل او دۀ ورته "ابولقاسم حسين بن روح نوبختي" د امام مهدي (عج) بل نائب معرفي کړ او وې فرمايل: دې زما ځاي ناستی دی. دۀ ته رجوع کوئ".[1]

ښاغلي ابو جعفر محمد بن عثمان بن سعيد عمري د هجرت په 305 کال وفات شو.

1. بحار ج 51 ص 354.355

# حسين بن روح نوبختي(رح):

ښاغلي ابولقاسم حسين بن روح نوبختي د موافقو او مخالفو دواړو په نزد لويې عظمت او حيثيت لرلو. په بصيرت، تقوي، فضيلت او پاکۍ کښې مشهور ؤ او ټولو فرقو ورته خاصه پاملرنه کوله، د دويم نائب محمدبن عثمان بن سعيد عمري په وخت کښې يې د هغۀ لخوا ځينې چارې په غاړه لرلې. محمد بن عثمان بن سعيد عمري د خپل وفات په وخت وويل چې د امام لخوا امر شوې چې تر ما ورسته به ښاغلي ابوالقاسم حسين بن روح نوبختي د هغۀ نائب وي او امام په خپل يو ليک کښې هم هغه خپل نائب ټاکلی دی. ښاغلي ابولقاسم حسين بن روح نوبختي قابو 21 کاله د امام نائب ؤ او تر وفاته مخکښې يې د امام په حکم د نيابت چارې ابوالحسن علي بن محمد سمري ته وسپارلې او د 326 هجري قمري کال د شعبان په مياشتې کښې وفات شو. ددۀ مزار په بغداد کښې دی.[1]

1 . بحار ج 51 ص 358، 360

# ابو الحسن سمري(رح):

د "منتهي الاعمال" کتاب مولف د امام مهدي (عج) د څلورم نائب ښاغلي ابو الحسن علي بن محمد سمري په باره کښې ليکي: دهغهٔ قدر او لوړوالي دومره زيات دی چې بيانولو ته اړتيا نهٔ لري. دغه بزرگوار د امام مهدي (عج) په حکم سره له حسين بن روح نوبختي ورسته د امام نيابت او د مسلمانانو په چارو د غور دنده په غاړه واخسته.

اروانښاد مهندس قمي ليکي: ابو الحسن سمري يوه ورځ خپلو ځينو ملگرو ته وويل خدايې پاک تاسو ته د علي بن بابويه قمي په مصيبت کښې صبر درکړه، هغه په پلانکي وخت له دنيا لاړ. ددهٔ ملگرو دغه وخت له ځان سره وليکلو. اوولس يا اتلس ورځې پس خبر راورسيد چې علي بن بابويه قمي په همدغه وخت وفات شوی دی.

علي بن محمد سمري د هجرت په 329 کال له دې دنيا بدرگه شو. تر وفاته مخکښې ځينې ملگري هغهٔ ته ورغلل او ورنه يې وپوښتل چې تر تا وروسته به د امام نائب څوک وي. دهٔ په ځواب کښې ووېل چې ماته په دې حقله د وصيت کولو هيڅ دنده او فرض نهٔ دي سپارل شوي. په دې باب د امام مهدي (عج) لخوا هم يو توقيع خپور شوې چې په دې ډول دی.

بسم الله الرحمن الرحيم

"اي علي بن محمد سمري! خدايې پاک ستا په مصيبت ستا ورونړو ته لويې اجر ورکړه تهٔ به شپږ ورځې پس له دنيا ځې، نو خپلې چارې راونغاړه او هيچا ته وصيت مهٔ کوه چې تر تا ورسته به څوک ځاي ناستی او نائب وي، په تحقيق سره، لويې غيبت (غيبت کبري) پيل شوی دی او زهٔ به تر هغې نهٔ راڅرګنديږم چې خدايې پاک حکم نهٔ وي کړې. او زما ظهور به له يوې اوږدې مودې او له دې ورسته وي چې دنيا له ظلم او زياتي ډکه شي او ډير زر به ځينې کسان له ما سره د رابطې او زما د خاص نائبوالي ادعا وکړي نو خبر اوسئ څوک چې هم د سفياني تر راوتلو او تر "صيحې" مخکښې داسې ادعا وکړي دروغژن و تور لګونکي دي. "و لا حول ولا قوه الا باالله العلي العظيم"

په شپږمه ورځ ښاغلي ابو الحسن سمري له دنيا لاړ او د عتاب و شنې ويالې په څنګ کښې په خلنجي واټ کښې خاورو ته وسپارل شو. د امام خاص نائبانو د خپلې زمانې ډير باوري شريف او متقي کسان وو او د لنډ غيبت په مودې کښې به خلقو د دوي په ذريعه خپلې پوښتني له امامه کولې او امام به د دوي په وسيله ځوابونه ورکول په هغه وخت کښې له امام سره دا ډول رابطه د هر چا لپاره ممکنه وه او ډيرو کسانو ددغو خاصو نائبانو پو وسيله امام ليدلي هم دي. هغه

کرامتونه او معجزې چې د لنډ غيبت په دوران کښې د امام لخوا د دوي د خاصو خائبانو په لاس کيدې، مسلمانانو د امام په وجود ډاډ منول.

اروښاد شيخ طوسي په "احتجاج" کتاب کښې ليکي: د امام مهدي (عج) هر يو نائب د امام لخوا په ځرګند فرمان سره او د مخکښې نائب په ټاکلو سره نائب شوي او مسلمانانو هم تر هغه واخته د هغۀ نيابت نۀ دي منلي تر څو چې يې داسې کرامت يا معجزه نۀ وي وړاندې کړې چې د امام لخوا د هغۀ په نيابت دلالت وکړي. په هر حال د لنډ غيبت په ختميدو سره اوږد غيبت پيل شو او تراوسه دوام لري.

د لنډ غيبت په موده کښې خلقو د خاصو نائبانو په ذريعه له امام څخه خپل مسائل پوښتل خو په ننني زمانه کښې دا کار ممکن نۀ دي او خلقو ته پکار دي چې د امام عامو نائبانو په ذريعه له امام څخه خپل مسائل وړاندې کړي او له هغوي ځواب واخلي، په فقهي مسئلو کښې د هغوي د تخصص او د روايت شوو روايتو په وجه د هغوي نظر او ځواب زمونږ لپاره حجت او دليل دي.

اروانباد کشي ليکي: امام يو توقيع وليکلو چې په هغه کښې يې ليکلي وو: "کوم ځيزونه چې ثقات او باوري کسان زمونږ په حواله نقل کوي په هغه کسې هيڅا ته شک او ترديد نۀ دي پکار او د هيڅا لپاره بانه نشي جوړيدي. پوهه شي چې مونږ خپل رازونه دوي ته ورکړل" همداراز شيخ طوسي،

اروانښاد شيخ صدوق او شيخ طوسي د اسحاق بن عمار نه رانقل کړي چې امام مهدي (عج) (د غيبت په موده کښې د خلقو د وظيفې او دندې په حقله) وفرمايل:

"و اما الحوادث الواقعه فارجعو فيها الي رواة احاديثنا فانهم حجتي عليكم و انا حجه الله عليهم"[1] (په هغو پيښو او کارونو کښې چې واقع کيږي زمونږ د حديثونو راويانو ته رجوع کوئ دوي په تاسو باندې زما حجت دی او زۀ د خدايې لخوا په هغوي حجت يم.)

اروانښاد طبرسي هم په "احتجاج" کتاب کښې له امام صادق عليه السلام څخه رانقل کړې چې په يو حديث کښې يې فرمايل:

"واما من كان من الفقهاء صايناً لنفسه حافظاً لدينه مخالفاً لهواه مطيعاً لامر مولاه فللعوام ان يقلده"(هر هغه فقيه چې د خپل نفس خيال ساتي (په نفس يې کنټرول وي) د خپل دين ساتونکی وي، د خپلو نفساني غوښتنو مخالف وي او د خپل مولا (او امامانو) د حکم منونکی وي، نو په عوامو لازمه ده چې د هغۀ تقليد وکړي)

په دا ډول د لويې غيبت په موده کښې د مسلمانانو چارې د ولي فقيه په اوږه پريوتې چې پکار ده د هغۀ له نظر سره سمې وشي که څه هم معصومو امامانو مخکښې هم د فتوې،

---

1 . احتجاج ص 283

قضاوت او حکم مقام د فقیهانو لپاره ټاکلي ؤ خو د اسلام د فقهاوو مرجعیت او مشري له همدغې تاریخه سره سما پیل شوه او د امام مهدي (عج) تر ظهوره پورې به وي.

## په لنډ غیبت کښې د امام (ع) معجزې او کرامتونه

هغه کرامتونه چې د لنډ غیبت په دوران کښې امام کول، دامام د پیروانو ایمان به یې غښتلي کوو، له لرو لرو ځایونو څخه به خلق بغداد او سامرا ته راتلل او د امام خاصو نائبانو به امام ته بوتلل او امام به ورته ځینې کرامات څرګندول. په لنډ غیبت کښې د امام کرامتونه دومره زیات دي چې یو بیل کتاب ته اړتیا لري زۀ دلته د نمونې لپاره څو وړاندې کوم.

1: عیسی بن نصر وایي علي بن صمیري امام ته لیک واستوۀ او ځان ته یې کفن وغوښت امام ورته په ځواب کښې ولیکل تۀ به د هجرت په 280 کال او د اتیاوو کالو په عمر کښې کفن ته حاجت ولرې. او لکه څنګه امام فرمایلي وو علي بن صمیري په هماغه کال مړ شو او تر مړینې مخکښې ورته امام کفن واستوۀ.

2: محمد بن ابراهيم بن مهزيار اهوازي وايي: کله چې امام حسن عسکري عليه السلام له دنيا سترګې پټې کړې نو زما په زړه کښې د غائب امام په حقله شک پيدا شو په دې وخت کښې زما پلار ته چې د امام حسن عسکري عليه السلام نائب ؤ خلقو ډير زيات مالونه راوړي وو چې دا امام ته ورسوي. پلار مې هغه ټول په يوې کشتۍ کښې واچول چې امام ته يوسي خو د تللو په وخت پرې سخت درد راغی او ماته يې وويې چې بچی زما ورځې شپې پوره دي. خو تا ته دا وصيت کوم چې دا مال امام ته ورسوه. پلار مې وفات شو او ما هغه ټول مال له ځان سره عراق ته راوړ او له ځان سره مې وويې چې کوم کور چې به پلار په کرايې نيولو زۀ به يې هم ونيسم که د امام په مال پسې څوک راغلل خو سمه ده او که نه نو بيا به راستون شم او مال به صدقه کړم په عراق کښې مې هماغه کور په کرايې ونيولو يو څو ورځې پس يو کس راغي او يو ليک يې راوړ چې پکښې ليکلي وو "له تا سره دومره دومره اندازه دومره دومره څيزونه دي" ما ته پخپله هم د جزئياتو سمه پته نۀ وه خو چې مال او سامان مې وليد نو هماغه شان ؤ. سامان مې د امام استازي ته وسپارۀ او زړۀ مې مطمئن شو. څو ورځې پس استازي بيا راغي او يو ليک يې راوړۀ چې پکښې ليکلي وو "مونږ تۀ د خپل پلار په ځايې خپل نائب وټاکلي" ډير خوشحاله شوم او اهواز ته راستون شوم.

3: محمد بن سوره قمي (رح) چې د قم يو لويې بزرګ او عالم دی. وايي: علي بن حسين بابويه د خپل ترۀ له لور سره وادۀ وکړو خو له هغې يې کوم اولاد ونۀ زيږيد. د امام مهدي (عج) دريم نائب حسين بن روح نوبختي ته يې يو ليک واستوۀ او د هغۀ په وسيله يې له امامه وغوښتل چې هغه ته دعا وکړي چې خدايې پاک ورته فقيه زامن ورکړي. له امامه ورته ځواب راغی چې له اوسنۍ ښځې به دې بچي نۀ کيږي خو ډير زر به د يوې ديلمي وينځې مالک شې او له هغې به درته خدايې پاک دوه فقيه زامن درکړي. ابن بابويه ته خدايې درې زامن ورکړل (محمد ، حسين، او حسن) محمد او حسين دوه مضبوط فقهيان دي او داسې مطالب يادوي چې په قم کښې هيڅوک نشي يادولې او حسن چې دويم ځوې دی په عبادت او تقوي مشغول وي او له خلقو ځنډې ته دی او له فقې هم بې برخې دی. خلق ددغو دوو بچو په حافظې حيرانه دي چې دوي څنګه دومره زيات روايتونه او حديثونه نقل کړي او په ياد يې دي. دا د امام مهدي (عج) د دعا اثر دي.

## له امام سره کتنه

اروابناد شيخ طوسي په خپل اعلام الوري کتاب کښې د هغو ځينو کسانو نومونه اخستي دي چې له امام مهدي (عج) سره يې کتنه کړې يا يې د هغوي معجزې ليدلي دي. اروښاد

طبرسي وايي له دغو څخه ديارلس تنه په بغداد، کوفې، اهواز، قم، همدان، ري، اذربائيجان او نيشابور کښې د امام وکيلان او استازي وو او قابو پنځوس تنه د بغداد، حمدان، دينور، اصفهان، صميره، قم، ري، قزوين او د نورو ځايونو دي.[1] اروښاد حاجي نوري چې د څلورمې پيړۍ د سر کښينويو لويې عالم ؤ او مشهور کتاب مستدرک الوسائل يې ليکلی دی، په خپل کتاب "نجم الثاقب" کښې له هغو کسانو علاوه چې اروښاد طبرسي ذکر کړی د 120تنو نومونه اخستي چې يا يې پخپله د امام مهدي (عج) کتلی دی او يا يې د هغوي معجزي کتلی دي يا يې هم امام او هم معجزي کتلې. د دوي حکايتونه او قيصې په بيلا بيلو کتابونو کښې په سندونو او دليلونو سره ليکلي دي.

ځينو لويو عالمانو د هغو کسانو چې په اوږد غيبت کښې يې امام مهدي (عج) ليدلی دی او يا يې د هغوي کرامات په ويښه او يا خوب کښې ليدلی دي نومونه او کرامات ليکلي دي. په دغو کتابونو کښې په کشف الاستار، د بحارالانوار ديارلسم ټوک، دارالسلام او د نجم الثاقب کتاب په اووم باب کښې سل حکايتونه نقل شوي دي. دلته زۀ د "نجم الثاقب" کتاب يو حکايت ذکر کوم او که څوک غواړي چې په تفصيل

---

1 . اعلام الوري ص 425

سره دغه کرامتونه ولولي نو نوموړو کتابونو ته مراجعه کولی شي.

علي بن حسين اربلي چې يو عالم فاضل سړی دی په کشف الغمه کتاب کښې فرمايي: چې ماته ډيرو معتبرو او ثقه کسانو وويل چې په هرقل نومې کلي کښې د اسماعيل بن عيسی بن حسن هرقلي په نامه يو سړی ؤ. دا سړی بيا مړ شوخو ما ونهٔ ليدهٔ دغه سړي خپل ځوي"شمس الدين" ته دا قيصه کړې وه چې د ځوانۍ په دوران کښې د هغهٔ په پښې د "توثه" په نامه يوه خطرناکه دانه چې د انسان د موټي هومره لويه وه، راووته. دا دانه به په هر سپرلي کښې پخيده او چاوديده. ډير نو به ترې راتلو او دغه سړی به يې ډير تنګولو او دړدولو او له دې امله به يې کار نشو کولی. دا سړی "حله" ښار ته ورغي د رضي الدين علي بن طاووس په خدمت کښې حاضر شو او ددغه مصيبت شکايت يې وکړ. دغه سيد د خلې ټول طبيبان او جراحان راوغوښتل او ټولو وويل چې دا دانه د تور رګ لپاسه راوتلې ده. هيڅ علاج نهٔ لري يوازيني علاج يې دا دی چې پرې کړی شي ددې په پرې کولو کښې د تور رګ د پريکيدو امکان هم شته او که دغه رګ پرې شو نو اسماعيل به ژوندي پاتې نشي. نو په دې کښې ډيره خطره ده ځکه يې مونږ نهٔ شو پريکولی.سيد طاووس اسماعيل ته وويل زهٔ بغداد ته ځم تا به هم له ځان سره بوځم هلته لويې طبيبان دي کيدی شي هغوي يې څهٔ چاره وکړي. بغداد ته لاړل او طبيبان

يې راوغوښتل هغوي ټولو هم هماغه خبره وکړه او وې ويل چې په پرې کېدو کښې يې سر ته خطره ده. د اسماعيل زړه ډېر خفه او غمژن شو. سيد ورته وويل خدايې پاک په دې دومره لويې داني او نجاست سره ستا مونځ قبلوي نو تا ته به ستا د دردونو اجر ضرور درکوي. اسماعيل وويل که داسې وي نو بيا سامرا ته ځم او امامانو ته خپل فرياد کوم. اؤ سامرا ته لاړ. اسماعيل وايي چې کله سامرا ته ورسيدم او د هغو دوؤ پاکو امامانو (امام علي نقي عليه سلام و امام حسن عسکري عليه السلام) د قبر زيارت مې وکړو نو سردابې (د امام علي نقي عليه سلام و امام حسن عسکري عليه السلام په کور کښې ځاې دی) ته لاړم او شپه مې خدايې پاک ته په فرياد او زارۍ تيره کړه او د زمانې امام ته ډېر فرياد وکړ او مرسته مې ترې وغوښته، سهار د دجلې سيند ته لاړم او جامې مې وويځلې، ژۍ مې له اوبو ډکه کړه او له ځان سره مې وويې چې يو ځل بيا د امامانو زيارت وکړم، کلا ته لا نۀ ؤم رسيدلي چې څلور سوارۀ مې وليدل چې زما په لور راروان دي. د دغه ځايې په خواؤ شا کښې د ځينو شريفانو کورونه وؤ نو ما وې ګوندې شايد له دغو شريفانو څخه څوک وي، کله چې ماته راوراسيدل نو ومې ليدل چې دوؤ ځوانانو پکښې توري تړلې وې چې د يو تازه په مخ خط راغلي ؤ او بل يو صفا او پاکيزه بوډا ؤ چې په لاس کښې يې نيزه وه، دريم توره تړلې وه او د "فرج" په نامه جامې يې اغوستې وې د عمامې پلو يې ځوړند

ؤ او نيزه هم ورسره وه، بوډا سړي د نيزې سر په زمکه ولګوؤ او نيزه او هغه دوه ځوانان په ګس اړخ کښې ودريدل او د فرج جامو والا په ما سلام وکړ. ما ورته ځواب ورکړ او بيا يې وويل سبا به ځې؟ ومې ويل: هو. وې ويل: رانږدې شه چې ودې وينم څۀ څيز دې ځوروي. ما ته راياد شو چې د کلي خلق له نجاسته ډير ځان نۀ ساتي. او زۀ لوند يم لامبلي مې دې نو که ما ته يې لاس راونۀ رسي نو ښه به وي داسې نۀ وي چې نجس شم، په دې چورت کښې وم چې هغه راټيټ شو او زۀ يې د ځان خوا ته راکښلم زما په دانې يې لاس کيښود او زور يې ورکړ دومره چې سخت درد يې وکړ. بيا يې ما ته ووېل اي اسماعيله! کامياب شوې او وژغوريدې؟ ما ورته ووېل "کامياب شوم" او ډير حيران هم شوم چې زما نوم څنګه ورځي، نو هماغه شيخ راته په دې شيبې کښې ووېل: چې دا امام دی امام، ما منډه کړه او د امام پښې مې ونيولې امام په اس سور وه. او روان شو ما هماغه شان د هغوي رکاب نيولي ؤ، امام راته ووېل ستون شه، ومې ويل له تا به هيڅ کله جدا نۀ شم، بيا يې راته ووېل ستون شه، ما هماغه ځواب ورکړ، نو هغه شيخ راته ووېل: اي اسماعيله! شرمېږې نه چې امام درته دوه ځله ووېل چې ستون شه او تۀ يې خبره نۀ منې. دې خبرې په ما اغيز وکړ او د امام رکاب مې پريښود، امام چې کله څو قدمه لاړ نو بيا يې ما ته مخ کړ او وې ويل: کله چې بغداد ته ورسې نو منتصر به تا وغواړي او څۀ به درډالۍ کړي نو پام

کوه چې وايې نخلې، او زما ځوي "رضي" ته وو ایه چې ستا په حقله علي بن عرض ته څۀ وليکي چې زۀ هغۀ ته سپارښتنه کوم چې ستا څۀ پکار دي، دريې کړي. زۀ هم هلته ولاړ ؤم چې دوي مې له نظره پناه شول او زۀ په ډير ارمان سره کيښناستم او بيا له هغه ځايه سامرا ته راستون شوم.

د هغه ځايې خلقو چې زۀ وليدم نو وې ويل چې خفه يې؟ ما وې نه. له چا سره دې جنګ کړی دی؟ نه، خو دا راته ووايئ چې هغه سوارۀ چې تير شول ومولیدل؟ وې ويل: دا له شرفاؤ دي. ومې ويل: له شرفاوو نۀ وو بلکې يو پکښې امام ؤ. وې پوښتل: هغه شيخ يا د فرج جامو والا؟ ومې ويل: د فرج جامو والا. وې ويل: هغه ته دې تکليف ورکړ؟ ومې ويل: هؤ زما دانې ته يې زور ورکړ او ختمه يې کړه. دوي زما پتون وليد چې د زخم هيڅ نښه نښانه پرې نۀ وه. زۀ پخپله هم ډير حيرانه شوم او بل پتون مې وليد. په بدن مې د هغۀ زخم هيڅ نښه نۀ وه او خلق چې پوهه شول نو په ما يې يرغل وکړ او قميص يې راله ټوټې ټوټې کړ او د تبرک لپاره يې واخستو او کۀ ځينو کسانو نوی خلاص کړی. نو خلقو به له پښو لاندې چخښي کړی ؤم. په دې هله ګوله کښې پوځي مامور هم راورسيد او دا پيښه يې له ځان سره بغداد سره وليکله. ما شپه هلته تيره کړه او سهار له يو څو کسانو سره بغداد ته لاړم. حکومتي مامور دا قيصه له مخکښې بغداد ته رسولې وه. د بغداد په پل ډير زيات خلق ولاړ وو او له هر چا به يې د نامې پوښتنه کوله او

چې کله مونږ وروړسیدو نو په مونږ یې یرغل وکړو او هغه جامې چې بیا مې اغوستې وې، ټوټې ټوټې کړې او دومره رش راباندې جوړ شو چې سرته مې خطره شوه. په دې حال کښې سید رضي الدین له خپلو ځینو ملګرو سره راورسید او خلق یې له مونږ لرې کړل. او له ما یې وپوښتل هغه کس چې روغ شوی او شفا یې موندلې، ته یې چې دا خلق دې په غوغا کړی دي؟ ما وویل: هو. له اسه راکوز شو او زما پتون یې ولید، او چې کله یې د هغهٔ زخم چې مخکښې یې لیدلی ؤ هیڅ نښه ونهٔ لیده نو له ډیرې حیرانتیا بې هوشه شو او کله چې په خود کښې راغی نو وې ویل: وزیر زهٔ غوښتی یم او ویلي یې دي چې داسې قیصه ده نو دغه سړي زر تر زره ماته راوله. زهٔ یې له ځان سره هغه وزیر ته چې د قم او سیدونکی ؤ، بوتلم او وې ویل چې دا زما ډیر نزدې ملګری دی. وزیر وویل: قیصه راته بیان کړه. ما ورته له پیله تر پایه ټوله قیصه وکړه، هغهٔ ټول طبیبان او ډاکټران راوغوښتل او ورځنې یې وپوښتل تاسو ددې سړي زخم لیدلی ؤ.

وې ویل: هؤ لیدلی مو ؤ.

دوا یې څهٔ وه؟

دوا یو یوازې دا وه چې پرې شي او په پرې کیدو کښې هم قوي احتمال دا ؤ چې دی مړ شي، ښه که د مثال په توګه دی مړ نهٔ شي او زخم روغ شي او داغ به یې تر کومې مودې موجود وي. ټولو وویل: تر دوو میاشتو پورې به جوړ شي خو

بیا به هم د دانې په ځایې به یو سپین داغ پاتې شي چې ویښته به پرې نۀ کیږي.

بیا یې وپوښتل: تاسو څو ورځې مخکښې لیدلی ؤ؟ وې ویل: لس ورځې مخکښې.

وزیر د هغوي په مخکښې زما پتون ښکاره کړ او هغوي ولیدل چې د هغه دانې هیڅ نښه نښانه نشته. په دې وخت کښې یو عیسائي طبیب چغه کړه. "والله هذا من عمل المسیح" په خدایې قسم دا د عیسی مسیح له معجزاتو یوه معجزه ده. وزیر طبیبانو ته وویل: زۀ پوهه شوم چې دا د چا کار دی، بیا یې زۀ له ځان سره خلیفه منتصر ته بوتللم، منتصر ته مې هم ټوله قیصه وکړه. منتصر ما ته وویل دا پیسې واخله او په ځان یې ولګوه. ما ورته وویل: زۀ یوه پیسه هم نۀ اخلم. وې ویل: له چا ویریږې؟ ما ورته وویل: له هغه چا چې ما ته یې شفا راکړې ده ځکه چې هغه فرمایلي چې له تا څۀ وانۀ خلم. خلیفه په دې خبره ډیر خفه شو او وې ژړل.

د کشف الغمه کتاب لیکوال وایي: یوه ورځ مې یوې غونډې ته دا قیصه کوله چې کله مې ختمه کړه نو په اوریدنکو کښې یو د اسماعیل ځوې شمس الدین محمد پیژندۀ، له پیژندګلوۍ ورسته مې ورنه پوښتنه وکړه چې تا د خپل پلار پتون د ناروغۍ په حالت کښې لیدلی و، وې ویل چې په پتون یې هیڅ نښه نۀ وه او ویښتۀ هم شوي وو. پلار به مې هر کال سامرا ته تللو او په شپو شپو به هلته وه، ژړل به

يې او زاري به يې کوله. ګوندې يو ځل بيا امام وګوري، او تر څو چې زما ياديږي هغه له جوړيدو ورسته څلويښت ځله سامرا ته تللي ؤ او هلته به يې د شپو ژړل خو امام ورسره بيا ونه کتل او په همدې ارمان له دنيا لاړ.

سيد ابن طاووس فرمايي: ما په خپله زمانه کښې داسې څو کسان ليدلي چې ويل يې چې مونږ حضرت امام مهدي (عج) ليدلی دی. په دغو کښې ځينو کسانو امام ته د خلقو پوښتنې او ځوابونه هم وړل راوړل،

## د ظهور او څرګنديدو د وخت ټاکل

لکه څنګه مو چې وويل د امام مهدي (عج) د څلورم خاص نائب ابو الحسن سمري له وفاته وروسته د لويې غيبت دوره پيل شوه او تر اوسه روانه ده. امام مهدي (عج) د خدايې پاک په حکم ددې دورې په پايې کښې راڅرګنديږي. معصومو امامانو په ډيرو روايتونو کښې ويلي دي چې د امام د ظهور او څرګنديدو لپاره وخت نۀ شو ټاکلی بلکې وخت يې يوازې خدايې پاک ته معلوم دی. او د خدايې په حکم به راڅرګنديږي او څوک چې وخت وټاکي دروغژن دی.

"فضیل" له امام محمد باقر علیه سلام څخه وپوښتل: ایا د امام مهدي (عج) د ظهور وخت معلوم دی؟ امام درې ځلې وفرمایل: "کذب اوقاتون" (د وخت ټاکونکي دروغژن دي)

اسحاق بن یعقوت د محمد بن عثمان بن سعید عمري په وسیله امام مهدي (عج) ته یو لیک واستوۀ ځینې پوښتنې یې ترې وکړې او د ظهور د وخت په حقله یې ترې هم وپوښتل امام وفرمایل:

"و اما ظهور الفرج فانه الي الله تعالي ذکره و کذب الوقاتون" (یعني د امام ظهور د خدایې پاک په حکم سره دي. او څوک چې وخت ټاکي، دروغژن دي.)

البته د وخت د ټاکلو مطلب دا دی چې مثلا ووایي چې سم په فلانکي وخت به وي. دا ډول ټاکنه امامانو رد کړې دی بلکې ځینې نښې یې ښودلي چې له هغو ورسته به امام ظهور کوي.

## د ظهور او څرګندیدو نخښې

د امام مهدي (عج) له ظهوره او راڅرګندیدو مخکښې د راتلونکو پیښو په حقله ډیر زیات او بیلا بیل روایتونه موجود دي. په ځینو دغو روایتونو کښې له ظهوره مخکښې د نړۍ د ټولنو په تیره بیا د اسلامي ټولنو د حالت سپړنه شوې ده او په ځنو نورو کښې له ظهور سره نزدې پیښې بیان شوي

دي. په ځينو روايتونو کښې خو د ډير عجيبه پيښو ذکر هم شوي دي. خو د دغو ټولو پيښو جاجولو ته د يو لويې کتاب ضرورت دی. زۀ دلته د يو څو نښو ذکر مناسب بولم.

**الف**: هغه روايتونه چې تر څرګنديدو مخکښې فضا بيانوي:

**1**: په اکثرو هغو روايتونو کښې چې امامانو پکښې د امام مهدي (عج) د راتللو زيري ورکړی دی دا يې هم جوته کړې چې د امام ظهور به هغه وخت کيږي چې دنيا له ظلم او فسقه ډکه شي او په ځينو روايتونو کښې ويل شوي چې د امام له ظهور سره نزدې به نړۍ په تيره بيا اسلامي ټولنې له ظلم، ګناه، فسق و فجور او له غلطو کارونو ډکه شي او له نورو بدو کارونو سره سره به نوموړي کارونه هم ډير دود شي، د شرابو څښل او د نشه ايزو مواد خرڅلاو به عام په ښکاره وي. سود به دود شي، زنا او داسې نور سپک او فحش کارونه به ښه په ډنډورا کيږي، ظلم، دوکه، نفاق، بدې اخستل، رياکاري، بدعت، غيبت او بې ځايه نيوکې به عامې شي، بې عزتي کول بې حيائي ظلم او زياتې به ډير وي، بې حجابه او بې ستره ښځې به په پړ کيدونکو او نظر راکښونکو جامو او سينګار سره بهر ته راؤځي. ښځې به ځانونه د سړو په شان او سړي به د ښځو په شان جوړوي. او سيګاروي، ښو ته بلل او له بدو منعې کول به خلق پريږدي. مومنان به خوار، لاچاره، بې قدره،

بې وسه او غمژن وي او دغو سپکاوو او ګناهانو مخه به نشي نيولي، کفر، الحاد او بې ديني به دود شي او په اسلام او قران به عمل نۀ کيږي. بچي به د مور او پلار بې عزتي او بې احترامي کوي. اؤ ځوروي به يې، لويې به په وړو رحم نۀ کوي، خمس او زکات خو به يا بلکل ورکول کيږي نه، يا به په سمو ځايونو کښې نۀ لګيږي، کافران او ملحدان به په مسلمانانو بري شي. او مسلمانان به په ټولو چارو او په جامو، وينا کړو وړو او کردار کښې د هغوي تقليد او پيروي کوي. او د خدايي حدونه به هېر کړی شي. داسې نورې ډيرې غميزې او پيښې شته چې په روايتونو کښې ورته اشاره شوې او په دې ورستۍ پيړۍ کښې ښې څرګندې شوي دي.

ب: له څرګنديدو سره نژدې پيښې:

2،3: "د سفياني راښکاره کيدل او په زمکه کښې ددۀ د پوځيانو ښخيدل هغه نخښه چې امامانو پرې ډير زيات ټينګار کړی او په څرګنده يې ويلې ده د "سفياني" راوتل دي د ځينو روايتونو په اساس سفياني د يزيدبن معاويه بن ابو سفيان له نسله او ډير پليت سړی دی نوم يې "عثمان بن عنبه" دی او د نبوت او امامت له کورنۍ سره سخته دښمني لري. مخ به يې سور، سترګې شنې (داسې شنې چې په وهلو شنې شي) او په مخ به يې دانې وي او ډير بدرنګه او ظالم به وي،

په شام کښې به چې (دمشق، فلسطين، اردن، حمص او قنسرين) پکښې شامل دي راپاڅي، په چټکۍ سره به پنځۀ ښارونه ونيسي، او له ډيرو سپايانو سره به په عراق کښې د کوفې په لور روان شي د عراق په ښارونو په تيره بيا په نجف کښې به ډير زيات جرمونه او جنايتونه وکړي او د سپايانو يوه ډله به په عربستان کښې مدينې ته واستوي دا سپايان به د مدينې خلق ووژني او مال به يې چور تالا کړي له هغه ځايه به د مکې مخه وکړي او مکه به د خدايې پاک په حکم په زمکه کښې ننو ځې بيا به له دغو واقعاتو ورسته امام مهدي (عج) له مکې مدينې او له مدينې کوفې ته راشي او سفياني به له عراق شام او دمشق ته وتښتي. امام به ورپسې خپل سپايان وليږي دغه سپايان به يې په بيت المقدس کښې مړ کړي او سر به يې پرې کړي.

4: د سيد حسني راوتل:

د امامانو په روايتونو کښې راغلي دي چې سيد حسني به يو لويې شيعه عالم وي په ايران کښې به د ديلم او قزوين له سيمې راووځي او پاڅون به وکاندي (دی به ډير متقي خدايې پال او لويې کس وي او مهدويت ادعا به نۀ کوي) او يوازې خلق به د اسلام او د امامانو پيروۍ او طريقې ته وربولي. ددۀ تبليغ به پراخ شي او ملګري به يې ډير شي. له خپل وطنه ترکوفې پورې به ټله سيمه له ظلم او ستمه پاکه کړي او د يو

عادل باچا په شان به حکومت کوي او له خپلو سپایانو سره په کوفه کښې وي چې خبر به ورته راورسیږي. چې امام مهدي (عج) له خپلو یارانو او منونکو سره د کوفې خواؤ شا ته راغلی دی. سید حسني به له خپلو لښکریانو سره راؤځي او له امام سره به کتنه وکړي. امام صادق علیه السلام فرمایې چې سید حسني به پخپله امام مهدي (عج) پیژني خو ددې لپاره چې خپلو یارانو او منونکو ته د امام فضیلت او امامت ثرګند کړي، خپله اشنائي به نهٔ ښکاره کوي او له امام به وغواړي چې د امامت دلیلونه او هغه میراثونه چې له پیغمبرانو ورته پاتې دي. وښائي، امام به ځینې معجزې وښائي او سید حسني او منونکي به یې له امام سره بیعت وکړي. یوازې څلور زره کسان به داسې وي چې امام ته به د جادوګرۍ نسبت ورکړي او وبه وایي چې دا جادو او سحر دي. امام به له دریو ورځو نصیحت او لار ښوونې وروسته د هغوي د وژلو حکم ورکړي او هغوي ټول به د امام په حکم ووژل شي.

5 : اسماني غږ او انګازه:

یوه بل مشهوره نښه اسماني اواز دی په مکې کښې د امام مهدي (عج) له راثرګندیدو ورسته به له اسمانه ډیر هیبت ناک او ویرونکي غږ پورته شي چې امام او د هغوي نسب او کهول به خلقو ته وروپیژني، دا اواز له الهي ایتونو څخه دي په دې

او از کښې به خلقو ته سپارښتنه وشي چې د امام بیعت وکړئ او له حکمه یې سر مۀ غړوئ، ګني بې لارې به شئ.

6: د حضرت عیسی راتلل:

د حضرت عیسی علیه سلام راتلل او په امام مهدي (عج) پسې مونځ کول. په ځینو روایتونو کښې راغلي دي چې حضرت عیسی علیه سلام به له اسمانه نازلیږي او په امام مهدي (عج) پسې به مونځ کوي. د اسلام ګران رسول حضرت محمد (ص) خپلې ګرانې لور بي بي فاطمې(ع) ته فرمایې:

و منا والله الذي لا اله الاهو مهدي هذا الامه الذي یصلي خلفه عیسی بن مریم[1] (او په هغه خدایې قسم چې له هغۀ پرته بل خدایې نشته، ددې امت مهدي له مونږ څخه دي هماغه چې عیسی بن مریم به ورپسې مونځ کوي)

پر دې سربیره نورې نښې نښانې هم شته، خو دا معلومه نۀ ده چې ټولې به پیښیږي او که نه یا ممکنه ده د زمانې مطابق بدلون پکښې راشي. خیر دا ځانته یوه موضوع ده او په ځینو روایتونو کښې خو راغلي دي چې هغه نښې چې حتمې او ضروري دي هم کیدي شي چې بدلې شي یوازې هغه څیزونه نۀ بدلیږي[2] چې خدایې یې وعده ورکړې ده څکه چې :

---

1 . اثبات الهدی ج 7 ص 14

2 . اثبات الهدی ج 1 ص 431

ان الله لا يخلف الميعاد (خدايې د وعدې خلاف ورزي نهٔ کوي).

## د امام علیه سلام پاڅون

له هغه روايتونو چې د پاکو معصومينو عليهم السلام لخوا د حضرت امام مهدي (عج) د پاڅون د پيښنو په باره کښې راغلي دي داسې معلوميږي چې امام مهدي (عج) به له يو اوږد غيبته ورسته په مکې کښې د خدايې د کور خوا ته د خدايې پاک په حکم راڅرګنديږي، د خدايې د رسول، توره، بيرغ، عمامه (پټکي) اوقميص به ورسره وي او فرښتې به يې ملګري وي. په غصې او کسات سره به پاڅون کوي. د خدايې پاک او اسلام دښمنان به وژني او له ظالمانو به انتقام اخلي.

خاص ملګري به يې 313 تنه وي چې په مکه کښې به ورسره بيعت وکړي، څهٔ موده به په مکې کښې پاتې شي او بيا به مدينې ته ځي، ملګري به يې جنګيالي، ميړني،صالحه، ايمان لرونکي د شپې مونځ ګزاره او د ورځې زمري وي، زړونه به يې د اوسپنې په شان مضبوط وي او د امام په اطاعت کښې به ډير زيار باسي او چرته چې ځي برياالي کيږي به.

امام عليه سلام به په مدينه کښې له جګړو وروسته له خپلو سپايانو سره عراق او کوفي ته ځي په کوفې کښې به له

سید حسني سره کتنه کوي. سید حسني او ملګري به یې د امام بیعت وکړي، حضرت عیسی به هم له اسمانه راکوز شي او په امام مهدي (عج) پسې به مونځ وکړي او د امام مرسته به کوي.

د امام د حکومت مرکز به کوفه وي. ختیځ او لویدیځ به فتح کړي. او اسلام به په ټوله نړۍ کښې واکمن کړي، دین به بیا راژوندی کړي. او د اسلام له پاکې څیرې به د بدعتونه او باسمیو دوړې صفا کړي. د خدایې پاک د کتاب او د خدایې د رسول له سنتو سره سم به حکومت کوي او د امیرالمومنین حضرت علي علیه السلام په شان ډوډۍ به یې ساده او جامې به یې ځیګې وي.

د امام په حکومت کښې به د زمکې برکتونه راښکاره شي او شته مني، نعمتونه میوې او پیداوار به زیات شي، فقر او غریبي به له منځه لاړه شي او ټول خلق به دومره سوکاله او په ناز و نعمت کښې وي چې د زکات لپاره به فقیر نۀ پیداکیږي. له امام سره د ګاونډتوب په شوق کښې به د کوفې ابادي دومره زیاته شي چې په امام پسې د مونځ کوونکو لپاره به یو لویې جمات جوړ کړی شي چې زر دروازې به لري. د امام په حکومت کښې به عدل او امن دومره زیات شي چې که یوه بوډۍ ښځه د سرو زرو شکرۍ په سر کړي او له یو ښاره بل ښار ته لاړه شي څوک به ورسره کار او غرض ونۀ لري. زمکه به امام ته خپلې خزانې او زیرمې راڅرګندې کړي او امام به دظلم

ځپلو تولې خرابې ابادې کړي کله چې امام پاڅون وکړي نو خدايې پاک به د هغهٔ د پیروانو سترګې او غوږونه دومره قوي او پياوړي کړي چې د امام او د هغوي ترمينځ به هيڅ حائل او پرده نهٔ وي او چې کله وغواړي امام به کتلي شي که څهٔ هم امام په خپل ځايې کښې ولې نهٔ وي.

د امام مهدي (عج) د ظهور په وخت به خدايې پاک په خپلو بندګانو د رحمت او مهربانۍ لاس راکاږي. او د هغوي عقلونه به بشپړ شي او امام به په خلقو کښې د حضرت محمد (ص) او د حضرت داؤدعليه سلام په طريقه او سنت سره فيصلې کوي او د خدايې رسول حضرت محمد (ص) په شان به د جاهليت دودونه ختم کړي او اسلام به بيا راژوندي کاندي.

## و تمت بالخير

♣ ♣ ♣